# اصلاح الامة

د امربالمعروف، نهې عن المنکر
او شکایتونو اورېدلو وزارت میاشتنۍ خپرونه

امربالمعروف او نهي عن المنكر د ټولنيز سمون مؤثره لار

ترويج و تقويت امربالمعروف و نهی عن المنکر، متضمن جامعه و کشور مترقی، متمدن و عاری از بی عدالتی است.
امربالمعروف او نهي عن المنكر د ټولنيز سمون، صميميت، همکارۍ او ديو بل د لاسنيوني تر ټولو مؤثره لار

د تأسيس کال: ۱۴۴۳ هجري قمري | د چاپ نېټه: غويي ۱۴۰۳ هـ.ش | درېيم کال: دوهمه ګڼه | پرلپسې ګڼه: ۳


آيا مونږ د وخت ارزښت پېژنو؟
ترتيب کوونکی:
مفتي عبدالقهار خالد زرنجوي
۴

اسلامي حکومت او د امر بالمعروف اداره
ليکنه: پوهنيار حسيب الله ايازي
۴

پرديو ښځو ته د کتلو عواقب
عبدالرحمن محمود
۴

د حقې لارې د ربښتينې مبارز زلمي ځانګړنې
ليکوال:
پوهنمل محمد اسحاق "شهيدزوی"
۴

سرمقاله

## د ثور اوومه توره او اتمه يې د افغانانو د وياړ ورځ

څه کم نيمه پېړۍ وړاندې يو څو پـردي پالو وګـړو د کمونيستي نظريې پالونکو په هېواد کې يو داسې تيارې ورځې بنسـټ کېښـود چې زمونږ هېوادوالو يې تر ډېره زيانونه ګالل، ښـکلی کابل يې وران کړ، کورونه او کلي د کنډوالو مرکز ونه و ګرځېدل، وطن يې يوې بد مرغه جګړې ته ټېل واهه؛ په دغې جګړې کـې چې ۱۴ کاله يې دوام وکړ ولس له هر ډول جبر، ظلم او ستم سره مخ شو هره بدبختي يې امتحان کړه میلیونونه انســــانان شـــهيدان، زخميان او يو لوی اکثريت د هېواد څخه مهاجرت ته اړ شـــول، د دې ټولو امتحانونو نتيجه الله تعالی شـيرينه کړه چې د وخت دا جابره اداره يې افغان مجاهد ملت ته را نسکوره او شرمنده کړه.

د ۱۳۷۱ هـ. ش کال د ثور په اتمه افغان مجاهد پـــروره ملت ته د آزادۍ ورځ ده، دوی پـــــــر دې ورځ د کمونيســـتي رژيم لمن ټوله کړه او دا ورځ د نړۍ نورو هېوادونو ته د خپلواکۍ اخېستلو الهام بخښوونکې ورځ ده، کله چې کمونيسـتي رژيم پر دې ورځ ماتې وخوړه تاريخ د دې شاهد دی چې د يادې منفورې ماتې د نړۍ په نورو هېوادونو کې هم خښتې په لړزان شوې.

دا چې افغان مجاهد ملت تازه د شل کلن اشـغال څخه د آزادۍ په فضـاء کې ساه اخلي، دوی تل د اسلام لپاره د سرښـــــندونکو مجاهدينو ننګه کړې او کوي به يې، د ظالم او جابر په وړاندې يې قيام، مبارزه او جهاد کړی او هېڅ وخت به چاته اجازه ور نه کړي چې د اســـــلامي شريعت خلاف خپله نظريه پـر دې پاکه خاوره تحميل کړي.

د افغانســـــتان اسلامي امارت د شهيدانو د ارمانونو پالونکی دی دا نظام به تل کوښــــښ کوي چې کورنيو اختلافاتو برابرولو ته زمينه په هېڅ صورت مســاعده نه شي، ځکه کورني جــنجالونه د فاتحــينو قومونو د ناکامۍ، خوارۍ او ذلت ســـتر لاملونه دي خو د دې برعکس اتحاد، يووالی او ورورولي هغه څه دي چې د بريا، پرمختګ او ترقۍ لامل ګرځي.

اوسنی امن او امنيت بايد غنيمت وګڼو او تل پاتې کېدلو لپاره يـې هلـې ځلـې وکـړو، ځکه کوم هېواد چـې امن ولري هغه ســل ګونه کاله پرمختګ په څو کلونو کې ترلاسه کوي او که امن نه وي څو سوه کلن پرمختګ په څو ورځو کې له منځه تللی شي. راځئ متحد شو، ځکه له متحد او متفق قوم څخه الله تعالی هم راضي وي.

## غوره اخلاق

ليکوال: مفتي وقايت الله (وقار)

شـــيخ امام محمد غزالي رحمه الله په خپل کتاب (خلق المســـلم) کې د دې وضاحت کړی چې د اسلام پنځه ارکان مســتقيما له اخلاقو سره اړيکه لري او د فرضـــيت په حکمتونو کې يې يو لوی حکمت د مسلمانانو اخلاقي روزنه ده.

هغه دغه مطلب ډېر ښــــه ليکلی دی، د لمونځ په اړه ليکـي: قرآن کـريم چې د لمانځه د فرضيت په اړه فرمايي، هلته يې اخلاقــي رزونه باندې صراحت کـــړی، لمونځ له قولي او فعلي بــې حياييو څخه د خلاصون وسيله ده، زکات د نفسـونو د خپلمنځي اړيکـې د قوت لامل دی او د خلکو په منځ کې د الفت پيدا کولو لپاره فرض شـوی، روژه کې ټولې بدې خبرې او کړنې حرامې ګڼل شوي او په حج کې له جګړو او هر ډول بد اخلاقيو څخه منع شـوې ده؛ دا ټول عبادات چې تر شـا يې اخلاقي فلســـفه ځای لري، په دې دليل دي چې اســــــــلام د عالي اخلاقو غوښتونکی دی او مسـلمان بايد د داسې غوره اخلاقو نمونه وي.

همدارنګه امام غــزالي رحمه الله په ياد کتاب کـــې ليکلي دي چـــې د اخلاقو کمزوري د ايمان د کمزورۍ نښه ده.

د غوره اخلاقو په اړه ډېـر نبوي احاديث شـتون لري چې ځينې يې په لاندې توګه ذکر کېږي:

*د قيامت په ورځ د بـنده د عملونو په تله کې تر غوره اخلاقو دروند بل څه نه شته. (ابوداؤد شريف)

*په مؤمنانو کـــې د پوره ايمان خاوند هغه دی چـــې تــر ټولو غوره اخلاق ولــري. (ابوداؤد شريف)

*د قيامت په ورځ به په تاسو کې ماته ډېر نږدې هغوی وي چې اخلاق يې تر نورو ښه وي. (مجمع الزوائد للهيثمي)

*ډېری خلک چـې جنت ته داخلوي؛ نو تقوا او غوره اخلاق دي. (تـــــرمذي شريف)

*د الله تعالی په بنده ګانو کـې الله تعالـی ته تر ټولو محبوب د غوره اخلاقو خاوند دی. (مجمع الزوائد للهيثمي)

*رسـول الله ﷺ ته په امت کې تر ټولو محبـوب خلک د غوره اخلاقو خاوندان دي. (مسند أحمد)

*زه د هغه چا لپاره د جنت په لوړه بـرخه کـې د کور ذمه واريم چـې اخلاق يـې ښکلي وي. (مجمع الزوائد للهيثمي)

*تاسو له خلکو سره په مالونو سره احسان نه شـئ کولی؛ په ورين تندي او ښـکلو اخلاقو سره يـې وپالـئ. (مجمع الزوائد للهيثمي)

*رســـول الله ﷺ د غوره اخلاقو دعاء کوله، فرمايل يې: اللهم اهدني لأحســن الأخلاق لا يهدي لأحسنها الا أنت".

ژباړه: ای الله، غوره اخلاق مـې په بـرخه کـړه، د غوره اخلاقو توفيق خو يوازې ته ورکولی شې.

*رســـول الله ﷺ چې به کله په هنداره کې وکتل نو د اخلاقو ښـــــکلا به يې غوښته، فرمايل يې: "اللهم أَحســـــنتَ خلْقي فأَحْسِنْ خُلُقي" (مسند أحمد)

ژباړه: ای الله، لکه ښنګه چـــې دې زما ښکلی پيدايښـت کړی دی، دغسـې مې اخلاق ښکلي کړه.

* يقينا مؤمن خو د غوره اخلاقو په سبب د هغه چا درجه لاســـته راوړي چې هره ورځ روژه وي او د شـــپې عبادت کوي. (مجمع الزوائد للهيثمي)

دا د غوره اخلاقو په اړه د نـبوي احاديـثو يوه بـرخه ده، که قرآن کـريم وګورو؛ نو

## گناه و اکسير توبه و ضرورت بازگشت بسوی خدا

نويسنده: خالد ياغی زهی

گناه مانند يک مار بسيار زيبا، جذاب و فريبنده است؛ زيرا مار هم به ظاهر زيبا و دوست داشتنی است ولی وقتی مارا نيش زد وزهرش تمام وجود مارا فرا گرفت آنگاه مارا هلاک خواهد کرد.

انسان به رغم اينکه معصـوم نيسـت، مرکب از خطاء و نســـــيان است که گاهی از او به صورت عمدی يا غيرعمدی لغزش سر ميزند.

در اين وسط نفس، شيطان و انسان‌های فاسد نيز نقش عمده‌ای را در ارتکاب جرائم و لغزش های انســـانی دارند.

عمومی شـــدنِ انواع گناهان و اوضـــاع فجيع ســـايه افکندگی گناهانِ بر مردم بســـيار نگران کننده است؛ قومی که معلوم نيســـت سر به کدام وادی از بدبختی، ضلالت و ذلت گذاشته و بی هدف در مســـــــير شهوترانی، گناه و معصيت در حرکت است.

آنقدر فحشـــاء و منکرات عادی شده است که ديگر

ص ۳

## مسلمان ورور ته سپارښتنې

مولوي نورالحق مظهري

ص ۲

مســـلمانه وروره! کفـار او دښـمنان سـتا هېـڅ ډول پرمختـګ نشـــــي زغمـلی ځکـه نـو د هـرې ممکنــې لارې څخـه ســـتا د پرمختـګ او بريـا مخـه نيسي.

مســـلمانه وروره! سـتا دښـمنان کـه تـا ضعيـف او ناتـوان ووينـي ممکـن ښـکاره زور درسره وکـړي او خپلـې غوښـــتنې پـه تـا ومنـي او کـه دې قـوي او غښـــتلی ووينـي ممکـن ښـکاره زور درسره ونـه کـــړي خـو د چـم، فـريـب او دوکـــې لـه لارې ســتا د برياليتـوب مخـه نيسـي.

مســـــلمانه وروره! تېـر تاريـخ ټولـه درسـونه او عبرتونه دي؛ تـه وګـوره چـې د رسـول اللـه ﷺ د زمانــې څخـه بيـا تـر اوســـه پـورې د رښـــتينو مســـلمانانو دښـمنانو د دوی د ترقـۍ د مخنيـوي لپـاره څـه ورسره کـړي دي؟

مسلمانه وروره! هغـه دښـمن چـې سـتاسره نه شي مخامـخ کېدلای او يـا نـه غـواړي ســـــتاسره مخامـخ شي هغـه د پردې تـر شـــا او پـه پټـه ســـتا تخريـب او ورانــۍ تـه پلانونه جـوړوي او کوښـښ کـوي چـې د لاندې ذکر شـوو لارو څخـه ســتا پـر ضـد ځـان خپلـې موخـې تـه ورسـوي او يـا لـږ تــر لـږه سـتا د پرمختـګ مخـه ونيسي.

۱ - کوښــښ کـوي چـې سـتا پـه صـف کـې بې اتفاقـي پيـدا کـړي، سـتا او بـل مسلمان ورور تـر منـځ سـتونزې رامنـځ تـه کـړي او د کار خلـک درڅخـه لـرې يـا خوابـدي کـړي.

ص ۲

## زرينې کرښې

استاد نثار احمد صمد واصفي

**بې ارزښته افتخار**

تر ټولو غلط او ناوړه افتخار هغه وي چې يو څوک په داسې شي فخر وکړي چې ده يې په لرلو کې هېڅ رول نه وي اداء کړی، لکه: څېره، قد، رنګ، سـترګې، قوم، نژاد، ميراثي شتمني او ډېر نور شيان.

په هغو شـيانو فخر وکړه چې تا خپله ګټلي وي، لکه: تقوا، انســــانيت، علم، اخلاق، دينداري، مهرباني، شفقت، زړه سوی، صداقت، تېرېدل او نور ډېر اعلی ارزښتونه.

آيا شيطان کومه زنا کړې وه؟ شراب يې څښـــلي وو؟ څوک يې وژلي وو؟ شرک يې کړی وو؟ نو څه ګناه يې کړې وه، چې الله تعالی د تل لپاره لعنت پـرې وواېه؟ ځواب دې حتماً دا چـــې صرف يوې سجدې څخه يې انکار وکړ!

فکر وکړه يو بې لمانځه انســان هره ورځ د څو سجدو څخه انکار کوي. استغفرالله

مونږ د ځان د اصلاح او سمون لپاره دومره کوښښ نه کوو څومره چې تر ځان د نورو د غلط ثابتولو يا لـږ پوه بللو لپاره يې کوو.

قدرمن وروره او قدرمنې خورې!

د عزت او ذلت يوه دروازه ده چې هغه ژبه ده، نو سمې خبرې پرې کوه او بدې پرې مه کوه.

سيرت او صورت:

په ماشومتوب کې اکثراً کالي، لاسونه، پښې، سر او مخ خيرن وي، خو زړونه پاک وي مګر؛ په لويوالي کې بيا اکثراً کالي، لاسونه، پښـــــې، سر او مخ پاک وي خو زړونه خيرن شي چې داولې؟

ځوانه!

د ګناه د خپرېدو باعث مه کېږه!

کېدای شي چې ته يې بس کړې مګر هغه کسـان چې تا په ګناه اخته کړي، ستا له مرګه وروسـته سـتا لپاره د قبر د عذاب د زياتېدو لامل شي او ســـتا د آخرت د تباهۍ سبب وګرځي.

## مسلمان وروړ ته...

۲-کوښښ کوي چې ستا نفوذ، آبرو او حیثیت له منځه یوسي تر څو د نورو خلکو باور دربانديې کم کړي او په ټولنه کې ستا د همکارۍ او پلوۍ څخه خلک راوګرځوي.

۳-عقيدوي دښمن دې د عقيدې، مذهبي دښمن دې د مذهب، سياسي دښمن دې د نظام، فکري دښمن دې د تګلارې او عقدوي دښمن دې د خدمت او شهرت بدنامي کوي او له ګڼو لارو څخه ستا د پرمختګ مخه نيسي.

۴-دښمن نه يوازې دا چې ستا لپاره خير نه غواړي بلکې ستا په غم او مصيبت بانديې خوشحاله کېږي، ځکه نو هېڅ وخت آرام نه کېني له همدې امله کوښښ کوي چې فرصتونه ستا له لاسه وباسي، په بې ځايه شيانو دې مصروف کړي، د خپلو نفوذي کسانو له لارې غلطې مشورې درکړي، مصلحتونه او نفرتونه درڅخه ګډوډ کړي، ستا د نيمګړتياوو څخه ستا پام بلې خوا ته واړوي او ذهنيتونه ستا پر ضد تخريش کړي نو ډېر ځېرک اوسه او د ښه او بد په درک کې د خپل عقل، هوښيارانو او تجربو څخه کار واخله.

۵-قدرت، مال او ښځې هغه لويې فتنې دي چې د تاريخ په اوږدو کې يې ډېر غټ خلک د هلاکت او بربادۍ کندې ته ټېل وهلي دي، ممکن دښمن يې د کمېن په صفت وکاروي او که ستا فکري عشق ورسره وي او د تکبر، غرور او غفلت په ناروغۍ اخته اوسې دښمن به دې د قدرت ټول صلاحيت، د مال عمده ګټه او د کار اصلي پايله ځان ته راکش کړي او په خپل اختيار خو په غير شعوري ډول به د دښمن خادم جوړ شې او که دې فکري ترون او عملي مينه د قدرت، مال او نورو مفاسدو سره نه وه دښمن به ارومرو کوښښ وکړي چې د تخريب لپاره تا پورې وتړي او ستا په ذريعه ځان خپلې موخې ته ورسوي ځکه نو ډېر هوښيار اوسه او په هر کار کې د تدبر او پوره پلټنې څخه کار واخله.

۶-دښمن لکه په فزيکي لحاظ چې ستا لپاره تل دفاعي حالت غواړي په نورو برخو کې هم دغه توازن ته ډېر اعتبار ورکوي او په فکر، عقل، درک، ساينس، اقتصاد، تعليم او روحيه کې ستا لپاره بريا نه غواړي خو ته بايد د دښمن داسې فکرونه او مکرونه د عملي کولو څخه مخکې شنډ کړې او نه تنها دا چې د دفاع حالت څخه ځان وباسې بلکې پر دښمن د بريد حالت ته ځان ورسوې.

## اسلامي حکومت...

علميت او بصيرت سره خلک ورته رابولم.

يعنې بايد د پوره علم او بصيرت خاوند د الله ﷻ خوا ته دعوت وکړي اما په مشخص منکر کار کې هر څوک کولای شي، چې بل چاته په نېکۍ امر وکړي او له بدو يې منع کړي. دا چې د الله ﷻ په لوی فضل او کرم سره هېواد ته امن راغلی دی او د کفر، شرک، وحشت، فساد او بربريت تغر ټول شوی دی، د مينې، اخوت، مهربانۍ او بيا جوړونې يو ښکلی نظام حاکم دی نو دا مهال جدي اړتيا ليدل کېږي، تر څو د تېر شل کلن اشغالي دور ګرد، چې د اکثرو هېوادوالو په زړونو او افکارو پروت دی په يو خاص تدبير سره د ايمان او تقوی په اوبو پريمنځل شي او نوي نسلونه د کامل يقين، مېړانې، لوړ عزم، اسلام او خاورې سره په پوره مينه بانديې وروزل شي.

### امر بالمعروف د فکري رغونې لومړی سنګر

ټولو ته معلومه ده، چې کفري نړۍ زموږ په هېواد کې د نوي نسل د فکري تهذيب ويجاړولو او په لايزال رب ﷻ د ايمان او عقيدې په له منځه وړلو کې ميلياردونه ډالر مصرف کړل، چې بدبختانه د ډېرو هېوادوالو په افکارو او عقايدو يې ډېر لوړ منفي تاثيرات اچولي دي، اوس مهال د وحدانيت په سپېڅلې عقيده بانديې د يادو کسانو د عقايدو او افکارو د بېرته مينځلو په موخه يوې اساسي او باتدبيره پلان او کړنې ته ضرورت دی، چې بايد له ډېر بصيرت څخه کار واخيستل شي او په ياده اداره کې ماهر، مسلکي او با تدبيره کسان مقرر شي.

زما د ليسانس دورې له وخته د يو استاد ښاغلي پوهنوال محمد زکريا اميرزاده حفظه الله يوه خبره رايادېږي، هغه به ويل، چې تر څو دې خپل عمل او زړه اصلاح نه شي او په زړه کې دې د نورو په اړوند درد پيدا نه شي، ستا خبره به په هيڅ هيڅ تاثير نه لري.

نو دا صحيح خبره ده، چې يو محتسب ته د دندې په خاطر ضرور ده، چې دعوت وکړي او بايد په عمومي غونډو کې برخه واخلي، خو دا ورسره ډېره اړينه ده، چې خپل زړه او اعمال اصلاح کړي او د نورو د اصلاح درد يې په زړه کې پيدا شي.

همدارنګه امر بالمعروف د نننی جهاد لومړی سنګر دی، چې له دې لارې به د کفر او طاغوت ټول پلانونه شنډېږي او د مؤمنو ځوانانو لپاره به د ډال حيثيت لري.

لکه څرنګه چې طاغوت د دعوت لپاره رنګارنګ وسايل او برنامې په لاره اچولې دي، همداسې بايد په دې سنګر کې د دوی د شومو پلانونو د شنډ لپاره پلانونه طرحه شي، ننني ميډيا بايد د اسلام د دعوت، اسلامي زده کړو، قرآن او حديثو زده کولو وسيله وګرځي. هغه تلويزوني او ميډيايي برنامې، چې د ځوانانو نارينه او ښځينه وو فکر او دين ته په کې خطر ليدل کېږي، زر تر زره بند او يا سانسور شي او پر ځای يې ديني او عصري علوم او کلتوري درسونه وړاندې شي. نو دې هدف ته د رسېدو لپاره با تدبيره او د دين درد لرونکي کسان وټاکل شي او کړنې يې په ډېر جدي ډول د مشرتابه له خوا تر څار لاندې ونيول شي او په لنډ وخت کې خپل د کړنو او بريااوو راپورونه ورته وړاندې کړي.

ژبه د انسانانو تر منځ د افهام او تفهيم وسيله ده، چې د اسلام سپېڅلي او خوږ پيغمبر ﷺ په دې هکله فرمايلي دي: إِنَّا مَعَاشِرَ الأنْبِيَاءِ أُمِرْنَا أَنْ نُكَلِّمَ النَّاسَ عَلَى قَدْرِ عُقُولِهِمْ. الحديث

ژباړه: موږ د انبياوو ټولی يو او داسې امر شوي يو، چې د خلکو د عقلونو مطابق له دوی سره خبره وکړو.

بناءً څرنګه چې په هېواد کې اسلامي شريعت د مرميو په څوکو باندې راغی، همداسې بايد فکري استعمار او عقايد د ژبې او قلم په څوکو باندې له منځه يوړل شي. زما په آند د دې فکري استعمار دا ګرد په داسې شکل سره له منځه تللی شي، چې د امربالمعروف اداره بايد ټولو دولتي کارکونکو ته فکري برنامې، سمينارونه او کنفرانسونه په لاره واچوي او په دوامدار ډول لنډ فکري موضوعات د ورځپاڼو، پليپ چارټونو، بروشورونو او اجتماعي شبکو له لارې نشر کړي. که چېرې په رأس کې يو باتدبيره کس و اوسي او په دې پوه وي چې معارف، پوهنتونونو، نظامي او ملکي ادارو او عامو ګړو ته بايد څنګه کسان واستول شي او د کوم شي خبره وکړي، يادې برنامې په ډېر کم مصرف او ښه توګه تنظيم کېدای شي او ګټه به يې ډېره زياته وي. دا کار يو ډېر منظم پلان غواړي او په دين مين کسان کولای شي، چې په ډېر بصيرت او تدبير سره دا کار وکړي. زما هدف دا دی، چې زموږ هېواد فطري ذکاوت لرونکي، با تدبيره او لوړ فکر لرونکي علماء لري، ځکه دا خاوره د شهيدانو په وينو خيشته شوې؛ اوس يې هم هره ډېره او ونه د تکبير آوازونه زمزمه کوي. نو په دې اساس د دې مسلمان ملت نوي نسلونه فکري روزنې ته ضرورت لري او دې روزنې ته ډېر تږي دي. د الله ﷻ له عظيم دربار څخه د اسلامي نظام بقا، اسلامي صفوفو نظم، سپېڅلتيا، اسلامي دين او تاريخ ته د مسلمان ملت پام را اوښتل او هېواد له رحمتونو او برکتونو څخه ډک غواړم.

### امربالمعروف، نهې عن المنکر، د امت بيداري او پيوستون

دا چې نن ورځ امت له خپلو لومړيتوبونو ناخبره دی، خپل تاريخي برم او عظمت يې هېر کړی دی يواځنی دليل يې دا دی، چې خپل دين او اسلامي تهذيب ته يې شا کړې او په دنيا او مافيها باندې يې زړونه تړلي دي نو په دې اساس کفر او طاغوت له دې فرصت څخه په استفادې سره نن له هرې وسيلې څخه استفاده کوي تر څو دا ډيوه د تل لپاره مړه او خاموشه کړي. خو دا دين او لاره د وحدانيت سپېڅلې لاره ده، د موسی عيه السلام، ابرهيم عليه السلام او محمد ﷺ لاره ده او دا لاره د تګ لپاره همېشه همواره خو له سختيو ډکه لاره ده. په دې لاره تلونکی بايد قوي ايمان، ټينګ عزم، سپېڅلې عقيده، لوړ شهامت او صبر ولري تر څو کولای شي په دې لاره کې د کړاوونو او سختيو جوګه شي او تېر تاريخي برم بېرته راژوندی کړي. دا د عمر رضي الله عنه لاره ده، چې له مکې څخه به يې بې له مخابرې، رادار او انترنته نړۍ اداره کوله او لوی طاقتونه به يې راپرځول، دا د خالد رضي الله عنه لاره ده، چې بې له زغرې به د طاغوت لښکرو په منځ کې په مېړانه جنګېده او د شهادت تږی وو، دا د صهيب رضي الله عنه لاره ده چې د دار پر سر يې د خپل حبيب ﷺ په مينه کې شعرونه ويل او تر هغې چې ځان يې قربان کړ. نو په دې اساس نن ورځ د ځوانانو رابيدارول په کار دي، فيسبوکي او په ميډيا مصروف، مړاوي زړونه د اسلام مبارک دي په لارښوونو تازه کول په کار دي؛ دا کار هغه وخت شونی دی چې محتسبين کرام د اسلام سپېڅلي دين لارښوونې او په خاص ډول د اسلافو، صحابه کرامو، تابعينو، اسلامي غازيانو او فاتحينو تاريخونه په لنډ ډول د خلکو تر ذهنونو ورسوي او ملت د اسلام له تاريخي برم څخه خبر کړي تر څو بيده ضميرونه بېرته را ويښ او اسلامي مفکوره بېرته را ژوندۍ شي، د علماوو په واسطه د ټولنې خلکو ته، خصوصاً ځوانانو ته د اسلامي نړۍ برم او عظمت وښودل شي او د ګيمونو، کرکټ، او... کولو څخه راوګرځول شي او پر ځای يې ورته د نجم الدين ايوبي کيسې وشي، د امت درد او خدمت ورته داسې معرفي شي، چې دا د ژوند تر ټولو مهمه او ارزښتناکه موضوع ده، نجم الدين ايوبي يوه ورځ خپل زوی د لوبېدونکو ماشومانو سره په کوڅه کې وليد نو تر ګوتې يې ونيو او ورته يې وويل، زويه، ما د دې لپاره ستا له مور سره واده نه دی کړی، چې په کوڅه کې لوبېدونکی زوی وزېږوم، زه تا بايد د اقصی د آزادۍ اتل وګورم، د اقصی فاتح بايد په وړو کارونو مصروف نه شي. دا زموږ د اسلافو اهداف وو او د امت درد ته يې داسې په خپلو خيالونو کې ځای ورکړی وو. يوه ورځ يې زوی له غېږې ولويد، ماشوم خوږ شو، درد يې په څېره کې معلومېده، خو غږ يې ونه کړ، پلار يې ورته وويل: زويه خوږ شولې خو ولې دې و نه ژړل؟ زوی يې وويل: هغه چې د اقصی د آزادۍ هيله لري، په وړو دردونو بايد ونه ژاړي. دا کوچنی ماشوم د اسلام ستر فاتح صلاح الدين ايوبي نومېده، هغه کس چې د اقصی ديار يې له ۸۸ کلونو اشغال وروسته پاک کړ (سعيدی، ۱۴۰۲: ص ۳۱). د داسې لوړو اهدافو تدريس او د داسې پلرونو او زامنو روزنه نن ورځ ستاسو قدرمنو محتسبينو او د ټولو علماوو دنده ده، چې په پايله کې به مسلمان نسلونه يو ځل بيا سلطان صلاح الدين ايوبي، سلطان محمد فاتح، احمدشاه بابا، ميرويس خان نيکه، غازي محمد جان خان او... وزېږوي او اسلامي خاورې به بېرته سره وصل کړي. بېرته به بيت المقدس، مکه، عراق، قسطنطنيه او بلخ اسلامي مرکزونه جوړ شي، د اندلس تياره ښار به بېرته په رڼاګانو ښکلی شي، اسلامي برم به بېرته ژوندی شي، کفري ملکونه به په پرلپسې ډول فتحه شي، اسلام به د نړۍ تر ګوټ ګوټ پورې ورسېږي او په نړۍ کې به د اسلام سپېڅلی بيرغ ورپېږي.

## غوره...

څومره تصريح او سپينه خبره چې د رسول الله ﷺ د اخلاقي کمال په اړه شوې، د بل چا په اړه په دغسې ډول نه ده شوې، هلته چې ورته فرمايي: وَإِنَّكَ لَعَلَى خُلُقٍ عَظِيمٍ. [سورة القلم: الاية ۴]

ژباړه: يقينا ته د سترو اخلاقو خاوند يې!

موږ په يو داسې عصر کې اوسېږو چې مسلمانان په اخلاقي لحاظ ورځ تر بلې کمزوري کېږي او لکه څنګه چې د ساينس، ټيکنالوژۍ او عصري علومو ميدان ترې پردو ګټلی دی، هڅه کېږي چې اخلاقي ډګر هم هغوی ته پرېښودل شي او موږ به د تش په نوم مسلمانۍ شعارونو ته زنده بادوايو.

ښه خبره دا ده چې موږ اخلاقي کمزورۍ او خوبۍ دواړه وپېژنو او د دې پر ځای چې نور په ځان پسې په زور تابع کړو، بايد په اخلاقو يې وتړو او د دين خواږه ورته په عملي توګه ثابت کړو، د رسول الله ﷺ په ژوند کې د هغه کسانو شمېر څوک کولای نه شي چې د پيغمبر ﷺ د ښو اخلاقو له کبله مؤمنان شوي دي، ولې موږ دومره ټيټ شو چې خلک مو د اخلاقو او انسانيت په هېڅ امتيازي اړخ فکر ونه شي کړی؟

د غوره اخلاقو د تعريف په اړه د امام عبد الله بن مبارک رحمه الله تعريف ډېر جالب دی، هغه فرمايي: «هُوَ بَسْطُ الوَجْهِ، وَبَذْلُ المَعْرُوفِ، وَكَفُّ الأَذَى» (سنن الترمذي)

يعنې: ورين تندی، د نېکۍ خپرول او له بدۍ او ضرر څخه ځان ساتنې ته غوره اخلاق وايي.

## د غزني ولايت د امربالمعروف رياست دوه کلنې لاسته راوړنې

د غزني ولايت د امربالمعروف، نهې عن المنکر او شکايتونو اورېدلو رياست محتسبينو په تېرو دوو کلونو کې په مرکز او ولسواليو کې د خپلو دوامداره هڅو په جريان کې د (۱۸) قومونو او (۲۷) کورنيو تر منځ چې له ډېر وخت راهيسې دښمنۍ وې د قومي مخورو او ديني عالمانو په هڅو په دوستۍ بدلې کړې.

همداراز د ياد رياست د شکايتونو اورېدلو آمريت په تېرو دوو کلونو کې د هېوادوالو (۱۵۳) شکايتونه چې له امارتي مسؤولينو او منسوبينو څخه يې درلودل حل او پاتې شکايتونه چې د يادې ادارې اړوند نه وو شاکيانو ته لازمې لارښوونې کړي تر څو خپل شکايت تر مربوطه ادارې ورسوي.

بله خوا د ياد ولايت محتسبينو د منکراتو د مخنيوي او معروفاتو د اقامې په برخه کې له زياتو ديني عالمانو، قومي مخورو او ځوانانو سره ناستې ترسره کړې تر څو د نوموړو په مرسته په ټولنه کې د شته منکراتو مخه ونيسي. دغه راز د ياد ولايت محتسبينو د ښار له نظامي ځايونو، ښوونيزو مرکزونو، ورزشي ځايونو، هوټلونو او عامه ځايونو څخه د ليدنو پر مهال نوموړو ته د وزارت لخوا د شويو سپارښتنو د تطبيق په موخه توصيې کړي چې ورسره د زياتو منکراتو مخه نيول شوې.

د يادولو ده چې په تېرو دوو کلونو کې د ياد ولايت محتسبينو په مرکز او ولسواليو کې د زياتو کوډګرانو مخه نيولې او عاملين يې قضايي ارګانونو ته سپارلي چې له خلکو به يې په چل او فريب پيسې اخيستې او د شريعت خلاف عمل به يې ترسره کول.

هېره دې نه وي چې د محتسبينو له اصلاحي کړنو سره په ټولنه کې د زياتو منکراتو مخه نيول شوې او معروفات قايم شوي او هېوادوال هم د محتسبينو له اصلاحي کړنو څخه د خوښۍ ترڅنګ د هر راز مرستې ډاډ ورکوي.

## د حقې لارې د رښتينې...

وړاندې يې درېدونکی وي د سنګر او دفتر په ټولو چارو برلاسی وي د قلم او ټوپک په کارولو او ارزښت پوهېږي.

**۲. د کورنۍ اصلاح کوونکی وي:**

د مبارز زلمي بله ځانګړنه دا ده چې په خپله کورنۍ کې د الهي احکامو او نبوي ارشاداتو تطبيق ته پوره پاملرنه کوي او د کورنۍ چاپېريال يې له هر ډول منکراتو، شيطاني کړنو متزه او پاک وي، هڅه کوي چې تر څو ځان لپاره صالحه مېرمن وټاکې او له هغې سره په ګډه د خپلو اولادونو سالمه ښوونه او روزنه وکړي داسې روزنه چې هېڅکله به د پرديو د فکر او عقايدو تر اغېز لاندې نه راځي دا راز اولادونه به يې د هرې باطلې عقيدې پر وړاندې بريالۍ مبارزې ته چمتو وي، د ديني او عصري علوموزده کړه اولادونو لپاره د وخت اړتيا بولي، د خپلو اولادونو سالمه روزنه د مسلمه امت د برياراز ګڼي او هڅه کوي داسې اولادونه وروزي چې راتلونکی نسل د طاغوت له هر ډول توطئو څخه وژغوري.

## د امربالمعروف وزارت له لوري د پلازمېنې کابل د ټولو جوماتونو له ملا امامانو سره د همغږۍ او همکارۍ په موخه ناسته تر سره شوه

په دې جوړه شوې ناسته کې چې موخه يې د جوماتونو ملا امامانو ته د اميرالمؤمنين حفظه الله د فرمانونو، احکامو او سپارښتنو د تطبيق او په ټولنه کې د معروفاتو د اقامې، منکراتو د مخنيوي او له محتسبينو سره مرسته کول وو، د امربالمعروف وزارت مسلکي معين شيخ محمد فقير محمدي، د محتسبينو د تعليم او تربيت رياست رئيس، د پلازمېنې کابل د ډېرى جوماتونو ملا امامانو چې تعداد يې شاو خوا ۱۰۰۰ تنو ته رسېده او د وزارت ګڼ شمېر مسؤولينو شتون درلود.

ناستې ته د ياد وزارت مسلکي معين ښاغلي شيخ محمدي په خپلو خبرو کې وويل: د اسلامي نظام ساتل او ورته خدمت کول د ديني عالمانو مسؤوليت دی چې بايد ساتنه يې وکړي، د خلکو ذهن سازي او عامه پوهاوی وکړي او نوی نسل په اسلامي روحيه سمبال وروزي.

هغه په دې تړاو زياته کړه، د اميرالمؤمنين حفظه الله او درئيس الوزراء محترم مقام د حکم پر اساس ټول وزارتونه او د مسجدونو ملا امامان مکلف دي چې په ټولنه کې د معروفاتو د اقامې او د منکراتو د مخنيوي په خاص ډول د حجاب د الهي حکم په پلي کولو کې له دې وزارت سره مرسته وکړي، دغه راز يې د جوماتونو ملا امامانو ته په خطاب کې وويل چې خلکو ته د اسلام او عباداتو لومړني احکام ور وښيي او هغوی ته د رسول لله ﷺ او صحابه کرامورضي الله عنهم اجمعين سيرت بيان کړي.

د يادولو ده چې يادو ديني عالمانو په خپلو خبرو کې د اميرالمؤمنين حفظه الله د فرمانونو، احکامو او سپارښتنو د پوره پلي کېدلو ډاډ ورکړ او ناسته د امربالمعروف، نهي عن المنکر او شکايتونو اورېدلو وزارت د محتسبينو د تعليم او تربيې رئيس مولوي کليم الرحمن په دعايې پای ته ورسېده.

## د لغمان ولايت محتسبينو د دې ولايت له ديني عالمانو، قومي مخورو او ځايي خلکو سره ناسته ترسره کړه

د لغمان ولايت د امربالمعروف رياست محتسبينو د دې ولايت په مرکز او ولسواليو کې له ديني عالمانو، قومي مخورو او ځايي خلکوسره ناسته ترسره کړه.

په دې ناسته کې محتسبينو، د اميرالمؤمنين حفظه الله او امربالمعروف، نهې عن المنکر او شکايتونو اورېدلو وزارت له لوري د شويو سپارښتنو تر څنګ يادو کسانو ته په ودونو او نورو خوښيو کې، د ترسره کېدونکو بېځايه او غير شرعي دودونو د مخنيوي په موخه لازمې لارښوونې او سپارښتنې وکړې.

محتسبينو د غونډو ګډونوالو ته د مشرتابه د فرمان له مخې په ټولنه کې د شريعت خلاف ناوړه دودونو؛لوړ ولور، په بدو کې د ښځو ورکړه، له ميراث څخه د ښځو محروميت، په ښځو باندې د شاقه کارونو ترسراوي، بې حجابي او بې ځايه مصارف کولو په تړاو خبرې وکړې او د سيمې پر ديني عالمانو او قومي مخورو يې ټينګار وکړ چې د ورته منکراتو له منځه وړلو په برخه کې دې په جدي ډول اقدام وکړي او ولس ته دې د اسلام سپېڅلي دين په رڼا کې د ژوند تېرولو ارزښت او اهميت بيان او خلک دې له اسلامي اخلاقو څخه باخبر کړي.

دغه راز يې په ناسته کې له ديني عالمانو وغوښتل چې د منبرونو له لارې خلکو ته د اسلام او عباداتو پر لومړنيو احکامو او په ټولنه کې د امربالمعروف او نهې عن المنکر په ارزښت خبرې وکړي.

ناستې ته ديني عالمانو او قومي مخورو پخپلو خبرو کې د محتسبينو له لوري د داسې ناستو جوړول له اسلامي نظام‌سره د ولس د همکارۍ مهم‌راز وباله او ويې ويل چې په ټولنه کې د حجاب دودول او په ودونو کې د بېځايه دودونو او لګښتونو بنديز د ټولنې د ثبات او سمون غوره لاره ده.

د يادولو ده چې د دې ولايت محتسبين د مرکز په ګډون په ولسواليو کې له ځايي خلکوسره د معروفاتو د اقامې، منکراتو د مخنيوي او د هغوی د ستونزو اورېدلو په موخه ناستې ترسره کوي چې ورسره په ټولنه کې د معروفاتو په اقامې او د منکراتو په مخنيوي کې د پام وړ بدلون راغلی.

## د امربالمعروف وزارت سرپرست وزير د ۵۲ (حج، عمرې او سياحتي)شرکتونو له استازو سره د هغوی د ستونزو د حل په موخه ناسته ترسره کړه

د رياست الوزراء محترم مقام د حکم په اساس د امربالمعروف، نهې عن المنکر او شکايتونو اورېدلو وزارت سرپرست وزير شيخ محمد خالد الحنفي صاحب په سرپرستۍ د حج او اوقافو وزارت، بهرنيو چارو وزارت او د چارو د ادارې لوی رياست د لوړرتبه استازو په ګډون د هېواد په کچه د حج، عمرې او سياحتي‌شرکتونو ستونزو ته د رسېدنې په موخه د يادشرکتونو له استازو سره د امر بالمعروف وزارت په مقر کې يوه ناسته ترسره کړه.

په دغې جوړه شوې ناسته کې د امربالمعروف وزارت د پاليسي او مسلکي مرستيال شيخ محمد فقير محمدي، د شکايتونو اورېدلو مرستيال الحاج مولوي صديق الله اسحاق، د حج او اوقافو وزارت مسلکي مرستيال شيخ زرمحمد، د حج او عمرې رئيس قطب عالم، د خارجه وزارت او د کار او ټولنيزو چارو لوی رياست استازو ګډون درلود.

د ناستې په پيل کې د يادوشرکتونو استازو د رياست الوزراء د محترم مقام له لوري د ټاکل شوي لوړرتبه هيئت سره خپلې ستونزې شريکې کړې او له هغوی يې وغوښتل چې په دې برخه کې ورسره پوره همکاري وکړي او شته ستونزې يې حل کړي.

د هغوی د غوښتنو په ځواب کې د امربالمعروف، نهې عن المنکر او شکايتونو اورېدلو وزارت سرپرست وزير د ذکر شوي هيئت په سرپرستۍ يادو استازو ته په خپلو خبرو کې وويل: ((اسلامي امارت پرته له کوم توپيره هڅه کړې چې عدالت پلی او حق حقدار ته ورسوي. همدارنګه امارتي ادارو او هېڅ چاته به اجازه ور نه کړي چې د يو عام ولسی وګړي په حق کې زياتی وکړي.))

په دې ناسته کې د امربالمعروف وزارت سرپرست وزير شيخ محمد خالد الحنفي چې د ياد هيئت مشري يې پر غاړه وه، د هغوی ستونزې واورېدې او ډاډ يې ورکړ چې شته ستونزې به يې حل او د ضرورت په وخت کې به يې تر اړوندو مسؤولينو ورسوي.

د ناستې په پای کې د يادوشرکتونو مسؤولينو له دغه هيئت څخه مننه وکړه او خوښي يې وښووده چې خپلې ستونزې پرته له کومې وېرې د حل په موخه تر مسؤولينو رسوي او د مسؤولينو له لوري هم ورته مثبت ځواب ورکول کېږي.

## گناه و اکسیر توبه...

آن شور و شوقِ محبت الهی در بین مردم موج نمیزند؛ دیگر مسلمان مثل سابق دست به دعا نمیشود و از خدای مهربان طلب عفو و بخشش نمیکند؛ دیگر این مردمِ کشتی به گِل نشسته با دستانی بلند، چشمانی گریان و دلی لرزان و پشیمان در نیمه شب از درگاه معبود خود طلب عذر و بخشش نمی کند.

دیگر این مسائل هم متاسفانه برای یک فرد مهم و ضروری نیز تلقی نمیشوند زیرا بجای کسب رضوان الهی و تکمیل اوامر الهی، مشغول فوت و فن کسب مال، چگونگی پیشرفت، اطفای حریق شهوت و...است.

اگر این مردم واقعاً عاشق خدا می بودند و با تمام وجود شان کیفیت احسان و قرب الهی را چشیده بودند هرگز چنین رفتار نمی کردند.

به رغم این همه شومی گناه و آثار مخرب آن از این موضوع نیز نباید غافل شد که خداوند ﷻ همیشه مهربان است و علاوه بر صفت جباریت و قهاریت، ذاتی رحمان و غفور است.

خداوند متعال هر روز مشتاق تر از روزِ قبل انتظار توبه بندگانش را میکشد.

خداوند از مادری که سالیان درازی چشم به درب دوخته و انتظار می کشد که چه وقت فرزند مفقودش حلقه درب را بکوبد و مادر درب را باز کند و فرزند دلبندش را به آغوش گیرد و دلی سیر از شادمانی گریه کند؛ بیشتر منتظر توبه و بازگشت بندگانش است.

خداوند متعال منتظر است تا ما حلقه دربِ توبه را بکوبیم و خود را از آوارگی گناهان و این آشفته بازاری برهانیم و نجات دهیم.

قرآن کریم همواره بر ضرورت استفاده از فرصت عمر برای تحول درونی و رجوع به سوی خدای متعال تأکید کرده و میفرماید: [أَلَمْ يَأْنِ لِلَّذِينَ آمَنُوا أَنْ تَخْشَعَ قُلُوبُهُمْ لِذِكْرِ اللهِ وَ ما نَزَلَ مِنَ الْحَقِّ وَ لا يَكُونُوا كَالَّذِينَ أُوتُوا الْكِتابَ مِنْ قَبْلُ فَطالَ عَلَيْهِمُ الْأَمَدُ فَقَسَتْ قُلُوبُهُمْ وَ كَثِيرٌ مِنْهُمْ فاسِقُونَ. « [سورة الحدید: آیت ۱۶].

ترجمه: «آیا وقت آن نرسیده است که دل‌های مؤمنان در برابر ذکر خدا و آنچه از حق نازل کرده است خاشع و فروتن شوند؟ و مانند کسانی نباشند که در گذشته به آن‌ها کتاب آسمانی داده شد، سپس زمانی طولانی بر آن‌ها گذشت و قلب‌های شان قساوت پیدا کرد و بسیاری از آن‌ها گنهکارند!»

طبق این آیت شریف، ازدست دادن فرصت برای ایجاد تحول درونی، خطر سنگدلی و شقاوت را به دنبال خواهد داشت.

توبه در راستای تحول روحی موجب تحول در رفتار انسان میشود و کارهای خوب را جایگزین رفتارهای ناشایست می کند؛ چنان که قرآن کریم می فرماید: إِلَّا مَن تَابَ وَ ءَامَنَ وَ عَمِلَ عَمَلاً صَالِحًا فَأُوْلَـئکَ يُبَدِّلُ الله سَيِّئاتِهِمْ حَسَنَاتٍ وَ كَانَ الله غَفُورًا رَّحِيمًا. [سورةالفرقان: آیت ۷۰].

ترجمه: مگر کسی که توبه کند و ایمان آورَد و کار شایسته کند، پس خداوند بدی‌هایشان را به نیکی‌ها تبدیل می کند و خدا همواره آمرزنده و مهربان است.

اقتضای فطرت انسان حرکت در مسیریست که در آن مسیر به خداوند برسد و کارهای نیک انجام دهد تا لذت زندگی و رضوان الهی را بچشد؛ اما گاهی عوامل شیطانی و نفسانی انسان را از مسیر خداوند و راهی که فطرت خدادادی برای انسان ترسیم کرده منحرف می‌سازند و انسان را به بدی و انجام گناه وادار می کنند؛ در این صورت، توبه به معنای نجات و بازگشت به مسیر صحیح و راهی است که خداوند برای انسان تعیین کرده و پاسخ دادن به ندای فطرت میباشد.

لذا یکی از زیبایی های اسلام «توبه» است، توبه به معنای امکان بازگشت از گناه و پاک‌شدن دوباره است، به‌گونه ای که دوباره متولد و زاده شده است. توبه بذرهای امید را در دل‌های گنهکاران میکارد و افسردگی و ناامیدی را از انسان میگیرد و او را برای بازسازی مسیر و حرکت رو به جلو ورشد آماده میسازد؛ همچون جوانی که بر اثر جهالت از خانهٔ پدر و مادر

## محتسبین فاریاب: قبل از عقد نکاح و ازدواج؛ رضایت طرفین الزامی می باشد

محتسبین ریاست امربالمعروف، نهی عن المنکر و سمع شکایات ولایت فاریاب از یک مورد ازدواج اجباری در ولسوالی قیصار این ولایت جلوگیری نمودند.

براساس خبرنامه ریاست امربالمعروف، نهی عن المنکر و سمع شکایات ولایت فاریاب؛ چندی قبل مرد هفتاد ساله خواستار ازدواج با دختر دوازده ساله از یک خانوده فقیر گردیده و قرار بود این دختر را به عقد نکاح خود در بیاورد؛ اما بعد از اخذ معلومات آمریت امربالمعروف ولسوالی قیصار، محتسبین وارد عمل شده و مانع این ازدواج گردیدند.

محتسبین باهمکاری بزرگان قومی و علمای دین نخست نزد سرپرست دختر رفته دلیل این قضیه را جویا شدند که بعد از بررسی و تحقیق؛ علت آن فقر اقتصادی و ناداری خانواده دختر مشخص گردید؛ سپس محتسبین مرد مُسن که با استفاده از فقر اقتصادی این خانواده خواستار ازدواج با وی گردیده بود؛ در مطابقت به اصول شرعی و احکام دینی توصیه نمودند.

درهمین حال؛ الحاج مولوی محمد صادق ثاقب رئیس امربالمعروف، نهی عن المنکر وسمع شکایات ولایت فاریاب؛ ازدواج های که خلاف رضایت طرفین صورت گیرد آن را ظلم و نقض حقوق انسان ها خوانده گفت: مطابق به احکام شرعی؛ آنان مکلفیت دارند از همچو ازدواج ها جلوگیری نمایند.

قابل ذکر است که اهالی ولسوالی قیصار از اقدام این ریاست قدردانی نموده و در راستای اصلاح جامعه اعلام همکاری کردند.

# Islahul Ummah
Monthly



د امتياز خاوند:
د افغانستان اسلامي امارت د امربالمعروف،
نهې عن المنکر او شکایتونو اورېدلو وزارت

د اړیکو شمیرې
۰۲۰۲۹۲۹۱۲۳
۰۷۷۷۱۲۸۰۲۸

مرکز: د امربالمعروف، نهې عن المنکر
او شکایتونو اورېدلو وزارت - دارالامان عمومی سړک
کابل - افغانستان

د تأسيس کال: ۱۴۴۳ هجري قمري | د چاپ نېټه: غويي ۱۴۰۳ هـ.ش | دربيم کال: دوهمه ګڼه | پرلپسې ګڼه: ۳


## اسلامي حکومت او د امر بالمعروف اداره

ليکنه: پوهنيار حسيب الله ايازي

اسلامي حکومت او د امر بالمعروف اداره
ليکنه: پوهنيار حسيب الله ايازي
څرنګه چې الله ﷻ په قرآن کريم کې نيکيو ته درابللو او له بديو څخه د منع کولو امر کړی دی او په دې هکله يې فرمايلي دي: كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ الايه [سورة آل عمران: الاية ۱۱۰].
ژباړه: تاسو تر ټولو بهترين امت ياست، چې خلکو ته په نېکيو امر کوئ او له منکر کارونو يې منع کوئ او په الله ﷻ باندې ايمان لرئ.

نو په دې اساس د يو اسلامي حکومت په چوکات کې بايد داسې يوه اداره وجود ولري، چې خلک له بدو کارونو منع او نېکو لارو ته راوبولي، خو دا چې په ياده اداره کې بايد څه ډول خلک د دې دروند مسئوليت لپاره جذب شي، دا ډېره مهمه خبره ده، لکه څرنګه چې معارف او لوړې زده کړې مسلکي او پوهو کسانو ته ضرورت لري همدا ډول د امربالمعروف اداره هم همداسې مسلکي دعوتګرو ته اړتيا لري. څرنګه چې د دې امت هر ځوان، زوړ، نر او ښځې ته په دعوت باندې امر شوی دی او په دې هکله زموږ خوږ نبي ﷺ فرمايلي: بلّغوا عني ولو آية [صحيح البخاری] ژباړه: زما له طرفه خلکو ته ورسوئ ولو که يو آيت هم وي. يعنې هر څوک چې د کوم شي دعوت کوي، په هکله علم او پراخه نظر ولري، هغه که عالم يا يو عادي انسان وي کولای شي، چې حقې لارې ته دعوت وکړي، همدارنګه عادي کس چې د موضوع په اړه کافي علم او معلومات ونه لري بايد دعوت ونه کړي لکه څرنګه چې الله ﷻ فرمايلي دي: (قُل هَٰذِهِ سَبِيلِيٓ أَدۡعُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ عَلَىٰ بَصِيرَةٍ)[سورة يوسف: الاية ۱۰۸].
ژباړه: ووايه، دا زما لاره ده، چې زه په پوره

ص ۲

## آيا موږ د وخت ارزښت پېژنو؟

ترتيب کوونکی: مفتي عبدالقهار خالد زرنجوي

دا خبره د هر چا زړه منلې ده چې وخت ډېر ارزښتناک دی، قيمت يې ټاکل کېدای نه شي؛ څوک يې د سرو زرو سره پرتله کوي، نور وايي چې دا د الماس په شان ګران بيه عنصر دی په هر حال، مسلمان ته ښايي چې خپل وخت بې ځايه تېر نه کړي او له هر ډول عبثياتو چې د ده وخت ضايع کوي پرهېز وکړي د وخت ارزښت پېژندلو په اړه په (تاريخ بغداد) کې خطيب رحمه الله په ترجمه تاريخ حيات کې د محدث او فقيه حسين بن احمد بن جعفر ابوعبدالله چې معروف په (ابن البغدادي) دی داسې ليکي چې: دا شخص صادق، ديندار، عابد، زاهد او متقي انسان وو .
خطيب وايې: ما د بعضو صالحو مشايخو څخه اوريدلې دي چې: ابوعبدالله ابن البغدادي به تل چې موږ ورسره کله ملاقات کېدلو نو تندي به يې مات وو او يا به خوږ وو او مخ به يې پړسيدلي وو،
نو ما وپوښتل چې دا مات او خوږ تندی او پړسېدلی مخ به يې بيا ولې وو؟
هغه په جواب کې راته وويل: چې شيخ ابن البغدادي د مطالعې او کثرت ليکلو او کتاب کتلو له وجهې نه ويده کېږي مګر د خوب د غلبې پر وخت چې خپله ولوېږي، نو هر شی که د ډوډۍ کاسه او يا بل هر څه يې په څنګ يا مخ ته پراته وي نو د خوب د غلبې پر وخت ورباندې را پرېوځي نو ځکه يې اثر پر مخ او تندي باندې همېش معلوم وي .
قيمة الزمن عندالعلماء بقلم العلامة المربی الشيخ عبدالفتاح ابوغدة

## پرديو ښځو ته د کتلو عواقب

عبدالرحمن محمود

حافظ ابن کثير رحمه الله په البداية والنهاية کې د ۲۷۸هـ کال په حوادثو کې ليکي: په دې کال کې شقي او بدبخته فقيه، عبدة بن عبدالرحيم وفات شو، ابن الجوزي يې په اړه داسې وايي: ((دا شقي د وخت د لويو مجاهدينو څخه و، ډېر وخت يې له روميانو سره په جهاد او غزاء کې تېرېدی، يوه ورځ يې د روميانو په يوې کلاه کې يوه حسينه نجلۍ ولېده، محبت يې ورسره پيدا شو، خط يې ورولېږه چې تر تا د وصال لاره څه ده؟ هغې ورته وويل چې اسلام پرېږدې او نصراني شې، بيا به ماته و دې کلاه ته را پورته شې، ده ورسره ومنله، کله چې مسلمانان پرې خبر شول، دی تر کلاه رسېدلی وو، مجاهدين سخت غمجن شول، ډېر شديد اثر يې د غازيانو پر روحياتو او معنوياتو وکړ، څه وخت وروسته يو مجاهد تر هغې کلاه لاندې تېرېده، دی يې وليد، ور ناري يې کړې، يا عبدة! هغه قران دې څه شو، هغه فقهه دې څه شوه، هغه روژې او لمونځونه او جهاد دې څه شول؟ ده ورته وويل: نور مې ټول قران هېر شوی، خو دا آيت مې په ياد دی: رُبَمَا يَوَدُّ الَّذينَ كَفَرُوا لَوْ كَانُوا مُسْلمينَ * ذَرْهُمْ يَأْكُلُوا وَيَتَمَتَّعُوا وَيُلْهِهِمُ الأَمَلُ فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ [سورة الحجر: الاية ۲ـ۳]
ژباړه: (ډېر ژر به کفار پښېماني وکړي چې کاش دوی مسلمانان وای، ته اوس دوی پرېږده چې خوراکونه وکړي، د دنيا له متاع څخه خوند واخلي، اميدونه يې غافله کړي، ډېر ژر به دوی د خپل کفر په انجام خبر شي).
اوس زه په دې خلکو کې اولادونه لرم، مال او جايداد لرم، بيا پر هماغه نصرانيت باندې مړ شو بېشکه چې (إِنَّ النَّظْرَةَ سَهْمٌ مِنْ سِهَامِ إِبْلِيسَ) پرديو ښځو ته کتل د شيطان له غشو يو غشی دی چې مؤمن پرې ښکاروي، رب ﷻ دې ترې نجات راکړي.

## د حقې لارې د رښتينې مبارز زلمي ځانګړنې

لومړۍ برخه

ليکوال: پوهنمل محمد اسحاق "شهيدزوی"

**د حقې لارې رښتينی مبارز لاندې ځانګړنې لري:**

**۱. د ځان اصلاح کوونکی وي:**

د حقې لارې مبارز تر ټولو د مخه خپل ځان د سپېڅلي شريعت په اصولو برابروي، د ټولو شرعي اوامرو منونکی وي، سيرت او صورت يې په شريعت برابر او په يو الله ﷻ کلکه عقيده او باور لري، يواځې خپل رب ﷻ د خپل خير، شر، ژوند، مرګ، لوږې، تندې، برې او ... مالک بولي، پرته له لايزال رب ﷻ څخه له بل هېچا څخه وېره نه لري او د هر طاغوت پر وړاندې هسکه غاړه پرته له کومې وېرې مبارزه کوي.
تر بل هرچا زيات پرهيزګار وي، په پوره اخلاص الهي اوامر پر ځای کوي د فرايضو، نبوي سنتو، نوافلو، اذکارو پابندي کوي تر ټولو مهمه دا چې د شپې عبادت کوونکی وي، له ټولو ناوړه شيطاني کړنو بېزار وي، تر بل هر څه د خپل نفس تذکيې ته ډېره پاملرنه کوي له ريا، ځان ښودنې، قوم پالنې، انډيواليزم کرکه کوي او د ټولو اړيکو بنسټ يې د ولا او برا پر اساس جوړ وي دوستي او دښمني يې د الله ﷻ لپاره وي عابد تر بل هرچا د ولا او برا په مفهوم ښه پوهېږي، د ښو اخلاقو څښتن او د حلال رزق ګټونکی وي خپلې ټولې نفسي-او شيطاني غوښتنې تر پښو لاندې کوي او هېڅکله پر ماديات پورې زړه نه تړي تر بل هرچا په ټولنيزو چارو کې فعال ونډه اخيستونکی او د ټولنيزو ارزښتونو پالونکی وي، علم حاصلولو ته زيات هڅاند وي همېشه هڅه کوي تر څو په علمي لارو چارو تکيه وکړي ديني او عصري علومو کې کافي معلومات او مطالعه لري او ټول استدلال يې علمي وي، له ناپوهۍ او بېځايه ناستو څخه کرکه کوي، د پرديو له شومو توطئو او اهدافو باخبره او پر

ص ۳

## راپورونه

## شيخ محمد فقير محمدی، بر نقش عالمان دين و امامان مساجد در جهت تغيير و اصلاح اذهان عامه تأکيد نمود

نشستی با حضور مقامات وزارت امربالمعروف، نهی عن المنکر و سمع شکايات، ارشاد، حج و اوقاف، امامان مساجد شهر کابل و جمع کثيری از علمای کرام به هدف تطبيق فرامين اميرالمؤمنين حفظه الله، توصيه ها و همکاری با محتسبين در مقر اين وزارت تدوير يافت.
شيخ محمد فقير محمدی معين مسلکی وپاليسی وزارت امر بالمعروف، نهی عن المنکر و سمع شکايات در اين نشست بر نقش مهم و ارزنده علمای دين و امامان مساجد در جهت اصلاح اذهان عامه تأکيد نموده بيان داشت؛علمای کرام حيثيت و جايگاه خاصی در جامعه اسلامی دارند و همه‌ی علماء بايد برای بقای نظام اسلامی تلاش خستگی ناپذير را انجام دهند.
شيخ محمد فقير محمدی در جمع ازعلماء کرام و امامان مسجد افزود؛ که علمای دين در حقيقت پيشوايان و رهبران جامعه می باشند، آنها بايد برای اصلاح و تربيت مردم حلقات درسی فقهی و دينی را در مساجد راه اندازی نمايند و همچنين ترجمه و تفسير قرآنکريم را برنامه ريزی و تنظيم نمايند. و نيز جهت آگاهی مردم از احکام الهی سعی و تلاش به خرچ دهند.
شيخ محمد فقير محمدی معين پاليسی و مسلکی وزارت امربالمعروف، نهی عن المنکر و سمع شکايات خطاب به علماء و امامان مساجد گفت: که بايد از تاريخ گذشته درس بگيرند، زيرا در نظام های گذشته فرصت مناسب برای بيان احکام اسلامی توسط علماء موجود نبوده اما با تحکيم نظام اسلامی علاوه بر پديد آمدن اصلاحات در ساير عرصه ها؛ زورگويی ها در کشور خاتمه يافته و تمام مسئوليت حفاظت از نظام اسلامی به دوش علمای کرام ميباشد.

## اعتياد به مواد نشه آور؛ باعث ضعف اصول اخلاقی و دينی می‌گردد

محتسبين رياست امربالمعروف، نهی عن المنکر و سمع شکايات ولايت کابل از ولسوالی های ده سبز و کلکان ديدن نموده و طی جلسات متعدد با مسئولين امارتی، بزرگان قومی و جوانان روی اضرار و پيامد های استفاده از مواد مخدر و ديگر مواد نشه آور صحبت نموده گفتند: که دين مبين اسلام انسان را به همه خوبی ها و استفاده از هر آن ابزاری که برای انسان‌ها مفيد تمام ميشود امر نموده و از استفاده اشيای زيان آور منع می کند به همين منظور استفاده از مواد مخدر و ديگر مواد نشه آور را دين اسلام حرام قرار داده است.
محتسبين در ولايت کابل می گويند: اعتياد به مواد مخدر، علاوه بر تباهی و بربادی زندگی فردی؛ ضررهای جبران ناپذير اجتماعی همچون ضعف پابندی به اصول اخلاقی و دينی، ارتکاب انواع انحرافات و جرايم مثل سرقت، فحشا، خشونت های اجتماعی و خانوادگی، تجاوز و قتل در جامعه افزايش ميدهد.
بر بنياد خبرنامه ای رياست امربالمعروف، نهی عن المنکر و سمع شکايات ولايت کابل؛ محتسبين اين رياست در اين نشست ها به رعايت کامل رهنمود های اسلامی تأکيد نمودند.
طبق يک خبر ديگر محتسبين رياست امر بالمعروف، نهی عن المنکر و سمع شکايات ولايت کابل از مساجد جامع، نهاد های عرضه خدمات صحی و مراکز آموزشی در اين لسوالی ها بازديد نموده مردم را به رعايت اصول شريعت اسلامی به خصوص حجاب توصيه های لازم نمودند.